# د ولسي جرگې د بشري منابعو رئيس او د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون غړی ځیرنوال شاه سلطان عاکفی ژوند پاڼه

شاه سلطان عاکفي د شاه سیدو زوی او د سید حسین لمسی چې په۱۳۳۷ هجري لمریز کال د دایکندي ولایت(مخکنی ارزگان)د کجران و لسوالی دقلعه لاش په کلي کې زیږیدلی دی او خپل لمړنی او منځنی زده کړې يې د کجران په و لسوالی کې او ثانوي زده کړې يې د ارزګان ولایت د سیدالخان په لیسه کې پای ته رسولي او په ۱۳۵۶ هجري لمریز کال کې د کانکور د ازموینې نه وروسته د کابل پوهنتون د کرنې په پوهنځي کې شامل شو او په ۱۳۵۷ هجري لمریز کال کې د لا مسلکي زده کړو په موخه د هغه وخت شوروي اتحاد ته ولاړ او په ۱۳۶۳ هجري لمریز کال کې دنوموړي هیواد د کراسنادار ښار د کوبان په کرنیز انستیتوټ نه د علومو د ماستری درجه تر لاسه کړه.

عاکفي د لنډې مودې په بیلابیلو زدکړئیزو پروګرامونو کې لکه د علمي ځیړنو، پارلماني چارې(قانون جوړونه، د حکومت پر کړوباندې پارلماني نظارت او د خلکواستازيتوب) د ادارې اصلاح،ظرفیت جوړونه، تشکیل جوړونه ، داستراتیژیکوپلانونوجوړونه، د ښوونې اوروزنې مدیریت اولوړپوړي رهبري په هیواد کې د ننه او بهر( امریکا،فرانسه ، المان، هندوستان، مراکش، ترکیه، سعودي عربستان او پاکستان) کې ونډه اخیستې ده.

عاکفي د زده کړې په موده کې د افغان زده کونکو د اتحادیې رئیس پاتې شوی او د کراسنادار په ښار کی د افغانی زد ه کونکو د انتظام او انسجام په اړوند يې بی دریغه هلې ځلې کړي دي.

د زد ه کړې سر ته رسولو او هیواد ته بیرته راتګ نه وروسته ،عاکفي په ۱۳۶۴ او ۱۳۷۱هجري لمریزکلونو کې د ورځپاڼې لیکوونکی، په اقتصادي، ټولنیزو اوسیاسی چارو کې دڅیړونکي او کارپوه په توګه د هیواد په سیاسي او ټولنیزو بنسټونو کې کار او فعالیت کړی دی.

د ۱۳۷۱ او ۱۳۷۶هجري لمریزکلونو په موده کې نوموړی د افغانستان د علومو اکاډمی دکیمیا، بیولوژي او کرنې په علمي مرکز کې دغړي په توګه په دنده بوخت شو او د ځیرنوال علمي رتبې ته ورسید.

عاکفي د ۷۰ کلونو په وروستیو او د ۸۰هجري لمریزو کلونو په پیل کې د سره صلیب د نړیوالې کمیټې (ICRC) په مختلفو مسلکي برخو اود متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیایي ادارې

(USAID) دچټکوزده کړو په پروژه (APEP) کې دندی تر سره کړي دي او د ۱۳۸۱او ۱۳۸۲

هجری لمریزکلونوکې یو ځل بیا د افغانستان د علومو اکاډمۍ کې په علمي څېړونو بوخت شوی او د ۱۳۸۳ هجری لمریز کال په مني کې د جمهوری ریاست د مقام د لزوم دید په اساس د ملي شوری د موقتي دارالانشا د بشری منابعو د سرپرست په توګه ټاکل شوی او ورپسی د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال په پسرلي کې د آزادی سیالی له لاری چې د اداري اصلاحاتواو ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون له خوا په لاره اچول شوې وه د افغانستان د ملي شوری د بشری منابعو د رئیس په توګه وټاکل شو او د ۱۳۸۶ د وږی میاشتی نه تر اوسه د ولسي جرګې د بشری منابعو د رئیس په توګه دنده تر سره کوي او د جمهوری ریاست مقام د۱۳۸۹ هجری لمریز کال د وری د۲۹ نیټې د (۱۴)ګڼه فرمان پربنست د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د غړي په توګه ټاکل شوی دی.

عاکفي د ملي شوری د موقتي دارالانشا دجوړولو په بهیرکې ،هیواد او خلکو ته د صادقانه او ښایسته خدمتونوله کبله د جمهوری ریاست د مقام له خوا په ۱۳۸۵ کال کې د میر مسجدی خان لوړ دولتی مډال په ورکولو، په ۱۳۸۶او ۱۳۸۹هجری لمریز کلونو کې په لومړۍ درجه تقدیرنامو او همدارنګه د بشری منابعو په برخه کې د ښه کارونو د سر ته رسولوله کبله د مشرانو جرګې د رئیس له خوا د ستاینلیک په ورکولو او د ولسی جرګې د دارالانشآ د لوی رئیس له خوا د تقدیرنامې او ستاینلیک او د ښو څېړنیزو کارونو د سرته رسولو پر بنسټ د علومو اکاډمۍ له خوا په تحسین پاڼو ویاړل شوی دی.

د عاکفي څخه تر اوسه په مختلفو ځانګو کې شل علمي ،څېړنیز او معلوماتي لیکني اوله هغه جملې څخه د ټاکنو په اړه چاپ شوي دي. د عاکفي مقالې او علمي څېړنې د علومو اکاډمۍ په نشراتو کی، د اعیان او شوری په مجلو کې او د ټولنې د حقوق په جریده کی خپاره شوي دي. دی په دري، پښتو، انګریزي او روسي ژبو باندې لیکل ،لوستل او خبرې کولای شي او د پرمختللي اداري او مدیریتي سیستمونو سره بلدتیا لري. دی متاهل او د پنځه ماشومانو خاوند دی . ښاغلی عاکفي د فراغت په وخت کی د سیاسي او تاریخي کتابونو د لوستلو او شطرنج سره مینه لري.